Islamic Emirate of Afghanistan
Ministry of Public Health
Deputy Director of Policy and Health Development
Afghanistan National Public Health Institute

امارت اسلامی افغانستان
وزارت صحت عامه
معینیت پالیسی و انکشاف صحت
انستیتوت ملی صحت عامه افغانستان

د افغانستان اسلامي امارت
د عامې روغتیا وزارت
د پالیسۍ او روغتیا پراختیا معینیت
د افغانستان د عامې روغتیا ملی انستیتوت

Volume 7, Issue 1 **August 2025**

غضنفر طبی ژورنال

Ghazanfar Medical Journal (GMJ)

غضنفر طبی ژورنال

Ghazanfar Medical Journal (GMJ)

Afghanistan

Address: Afghanistan National Public Health Institute (ANPHI), MoPH
5th Floor of MoPH second building 16 street of Wazir Akbar Khan Area, Kabul-Afghanistan
Phone #: +93 (0) 202109105
Email: gmj@moph.gov.af gmj.afg@gmail.com

Contents

Editorial Note

Dear Readers and Contributors,

It is with great pleasure and a sense of revival that we present to you the long-awaited volume 7 of Ghazanfar Medical Journal (GMJ).

As the Chief Editor, I am delighted to witness the reinvigoration of our journal as a platform for disseminating cutting-edge research and scholarly contributions in the field of Public Health. Our dedicated team has worked tirelessly to overcome the challenges, ensuring that the journal can continue its mission of advancing health knowledge and promoting evidence-based healthcare.

In this volume, we have assembled a diverse array of original research articles from esteemed researchers and clinicians across various medical disciplines. Each submission has undergone a peer-review process, upholding our commitment to academic rigor, scientific integrity, and ethical publishing.

Ghazanfar Medical Journal is committed to fostering a collaborative and inclusive environment that encourages the exchange of ideas and promotes interdisciplinary collaboration. We believe in the power of various perspectives and aim to highlight research from across the country and region.

Moving ahead, I would like to take this opportunity to address an important matter concerning the indexing and online availability of GMJ. Currently, our journal is not indexed in any online database, which significantly limits its visibility and accessibility to the wider academic and scientific community. This limitation not only hinder the dissemination of our article but also delay the ability to attract high quality submissions to our journal. We acknowledge the significance of online indexing as a critical step towards increasing the impact of our articles and are committed to enhancing the accessibility and visibility of GMJ. I, therefore, strongly urge the Emarat Islamic of Afghanistan prioritize the importance of research and academic evidence generation for informed decision-making, and provide necessary support to establish a dedicated online platform for publication of GMJ articles.

Finally, I would like to express my gratitude to the authors who have entrusted their work to Ghazanfar Medical Journal. Your contributions drive our mission of advancing medical knowledge and promoting evidence-based healthcare. I also extend my appreciation to our diligent reviewers and the dedicated editorial team for their unwavering commitment in maintaining the journal's high standards

I invite all our readers, researchers, and healthcare professionals to explore the articles in this volume and actively engage in the ongoing discourse within the medical community.

Best regards,

Taj Malook SAMIM MD, M.Sc.
Chief Director of Ghazanfar Medical Journal

A Hospital-Based Study of COPD Among Patients Referred to Mirwais Regional Hospital in Kandahar

Author
Dr. Mohammad Suleiman AMIRZADA
Affiliation
Clinical assistant professor, Mirwais Regional Hospital, Kandahar, Afghanistan
Corresponding author contact info
Email: amirzadasolaiman@gmail.com , Phone number: +93700349593

Abstract
Background: Chronic obstructive pulmonary disease (COPD) is defined as a disease state characterized by persistent respiratory symptoms and airflow limitation that is not fully reversible. COPD includes emphysema, an anatomically defined condition characterized by destruction of the lung alveoli with air space enlargement; chronic bronchitis, a clinically defined condition with chronic cough and sputum production; and small airway disease, a condition in which small bronchioles are narrowed and reduced in number. COPD is a major cause of chronic morbidity and is the third leading cause of death worldwide.
Objective: We conducted a study to describe profile of patients diagnosed, hospitalized and treated for COPD at the Mirwais regional hospital in Kandahar.
Methodology: In this descriptive study, data were collected from 168 patients over the last six months of the year 1399 who presented to the Mirwais regional hospital. We analyzed information about age and gender of the patients and the locations where the patients originated from, in terms of urban and rural.
Result: among 168 patients, 126 (75%) were female, and 101 (60.1%) patients were from urban area, 77.38% of the cases were aged 60+ years.
Conclusions: The study reveals that most of the cases were 60 years or above and women patients are three times more than men patients. This study highlights the predominance of elderly and female COPD patients in Kandahar. Interventions should focus on targeted health education, reducing household air pollution, and promoting seasonal influenza and pneumococcal vaccination.
Key words: Lungs COPD, Afghanistan, Kandahar, Bronchitis, Emphysema

د روغتون په کچه د سږو د مزمنو انسدادي ناروغيو مطالعه په هغه ناروغانو کې چې د کندهار ميرويس حوزوي روغتون ته راجع شوي

لنډيز
شاليد: د سږو مزمنه انسدادي ناروغۍ (COPD) داسې تعريف شوی چې دا يومرضی حالت دی کوم چې متصف دی په دوامداره تنفسی اعراضو او د هوا د جريان په محدوديت سږو ته کوم چې په مکمل ډول د رجعت وړنه وی. د COPD ترچټر لاندی امفزيما، يو اناتوميکی تعريف شوی حالت چې متصف دی د ريوی اسناخو په تخريب او دهوايی خلا په پراخوالی؛ مزمن برانشيت، يوکلينيکی تعريف شوی وضعيت د مزمن ټوخي اوبلغم سره؛ او small airway disease;يوحالت په کوم کی چې د کوچنيو هوايی لارو تنګښت او د شمير کمښت رامنځته کيږی، شامل دی. COPD د مزمن مصابيت يولوی لامل دی اوپه نړۍ کې د مرګ دريم لوی لامل بلل کېږي .
موخې: داڅيړنه په دی موخه ترسره شوی چې دهغه ناروغانو کلينيکی پروفايل تشريح کړی کوم چې د کندهار په ميرويس حوزوی روغتون داخله ځانګه کی د COPD په لوحه تشخيص، بستر او تداوی شوي دی.

کړنلاره: په دی تشریحی څیړنه کی معلومات یادداټا دهغه ۱٦۸ نارغانوڅخه د ۱۳۹۹ هجری شمسی کال په آخرو شپږو میاشتو کی راټول شوي کومو چی میرویس حوزوی روغتون ته مراجعه کړی وه. مونږ دا معلومات د ناروغانو دعمر، جنس، او اوسیدو دځای له مخی چې دښار اوسیدونکی دي او که د اطراف څخه ، تحلیل کړل.

پایلې: دی څیړنې وښوده چی زیاتره پیښې په ٦۰ کلنو اوپورته عمر کی وې. اوښځینه ناروغان دری چنده ترنارینه وو زیات وو. داڅیړنه دا څرکندوی چی په کندهار کی COPD ناروغی په لوړ عمر او ښځو کی بارزه ده. د ناروغانو صحی پوهاوی، په کورونو کی دهوا د ککړتیا کمول، او د موسمی ذکام او نمونیا واکسین تطبیقولو ته وده ورکړل شی.

کلیدي کلیمی: سږي، مزمنه انسدادي ناروغی، افغانستان، کندهار، برانشیت، امفزیما

سریزه

د سږومزمنه انسدادي ناروغی (Chronic Obstructive Pulmonary Disease) د هغه ناروغیو څخه عبارت دي چې د سږو د هوا د جریان په مقابل کی یو بندش په مزمن ډول سره شتون ولري، دا حالت د مزمن برانشیت او یا Emphysema له امله رامینځته کېږي چې د سږو مزمنه انسدادي ناروغی (COPD) په نامه سره یادیږی. د COPD ترعنوان لاندی دوه ناروغی مطالعه کیږی چی یوې ته یی Emphysema یا Type - A COPD او بل ته یې Chronic Bronchitis یا type -B COPD ویل کیږي. (*Kumar* & *Clark,* 2009, Goldman & Ausiello, 2007)

د نړیوال روغتیایي سازمان (WHO) د اټکل له مخې 65 ملیونه خلک له متوسط څخه تر شدید COPD لري. په ۲۰۰۵ میلادي کال کې د COPD له کبله له 3 ملیونه څخه زیاتې مړینې منځ ته راغلې دي چې په ټوله نړۍ کې د 5 سلنې مړینو لامل ګرځي. (McKay, Mahesh, Fordham, Majeed, 2012) د سږومزمنه انسدادي ناروغی (COPD) په نړۍ کې د مرګ دریم لوی لامل بلل کېږي. د روغتیا د نړیوال سازمان د څېړنې له مخې په جنوب ختیځه آسیا کې COPD له ایډز، ملاریا او نري رنځ څخه زیات خلک وژني. په هندوستان کې هر کال نیم ملیون خلک د COPD له امله مړه کېږي. کوم چې دا خلک څلور وارې له هغه خلکو څخه ډېر دي کوم چې په امریکا او اوروپا کې د COPD له کبله مړه کېږي. د Maharashtra د ایالت د ریوټ له مخې د مړینو ډېر مهم لامل دی، کوم چې دا مړینې د زړه د اسکیمک ناروغیو، Stroke او خورې ډیابېټ له امله مړینو څخه ډېرې دي. (Salvi & Agrawal, 2012)

د امریکا په متحده ایالاتو کې 3.5 ملیونه خلک په دې ناروغۍ اخته دي چې د هغې له ډلې څخه 12.1 ملیونه یې په مزمن برانشیټ او نور یې په امفزیما اخته دي. (Health Grades, 2014)

اوس مهال چې زمونږ په ګران هېواد افغانستان کې له یوې خوا د تنباکو څکول زیات شوي او له بلې خوا د هوا ککړوالی د ماشین آلاتو د زیاتو کارولو او د خلکو د ګڼې ګونې له امله زیات شوی دی، په همدې ډول په افغانستان کې د غربت له امله په ډېرو کورونو کې کاغذان، پلاستیک، ټوکران، د بوټونو تلي او نور د پخلي او د کورونو د ګرمولو لپاره کاروي چې اکثره یې ډېر زهرې لوګي تولیدوي چې دا ټول د COPD د پېښو د زیاتوالي لامل ګرځي.

که څه هم پورته ذکرشوی ناروغی اکثراً یوځای یا په مشترک ډول سره پېښېږي، اما اعراض او علایم د یوی ناروغی په کی متبارزه یا Predominant وی. که چیری د مزمن برانشیت اعراض متبارزه وی نو د Predominant Bronchitis او که چیری دEmphysema اعراض اوعلایم متبارزه وی د Predominant Emphysema په نامه سره یادیږی. Emphysema یوه پتالوژیکی اصطلاح ده حال دا چه Chronic Bronchitis یوکلنیکی اصطلاح ده. (Jameson, Fauci, Kasper, Hauser, Longo, Loscalzo, 2018, *Kumar* & *Clark,* 2009) مزمن برانشیټ یا Type B COPD د قصباتو د مزمن التهاب څخه عبارت دی. اوهغه وخت مزمن برانشیټ ورته ویل کیږی چه یومریض کم ترکمه د دوه کالولپاره او په هرکال کی دري میاشتی پرله پسی توګه ټوخی د بلغمو سره ولري. که چیری د ناروغانو بلغم مخاطی وی نو د Simple Ch. Bronchitis په نامه سره او که چیری قیحي وی د موکوپوروولانټ مزمن برانشیټ او که چیری مزمن برانشیت د wheezing سره موجود وی نو د Ch. Asthmatic Bronchitis په نامه سره یادیږی. د پتالوژی له نظره په هغه هوائي طروقو کی چه غضروفی

جوړښت لري په تحت المخاطی طبقه کي هايپرپلازی اوهايپرتروپی ليدل کيږی، او په هغه هوائي طروقو کی چه غضروفی جوړښت نلری يا کوچنيو هوائي طروقو کی د Goblet حجرې، مخاطی حجراتو او تحت المخاطی حجراتو هايپرتروپی رامينځته کيږی او نوموړی طبقی اذيما يي وي. د مرض په پرمختللي مراحلو کي Peri bronchial Fibrosis مينځته راځي او په کوچنيو هوايي لا رو کي مخاطي پلکونه يا Mucous Plaques ليدل کيږي او ملسا عضلات ضخيمه وي. (Maxine, Papadakis, Stephen, McPhee, 2021, Jameson, et al., 2018)

د مزمن برانشيت عوامل او مساعد کونکي فکتورونه په لاندي ډول دي:

١- **د سګرټو څکول (**Smoking**):** په څرګند ډول د مزمن برانشيت او د سګريټو د دود ترمينځ تړاو شتون لري هغه دا چي د سيګريټ دود د ملسا عضلاتو د هايپر تروفی او د مخاطي غشا د اپي تيليم د Hyperplasia لامل ګرزي کوم چي مخاط افرازوي، د Cilia تحرکيت کموي او انتان ته زمينه مساعدوي. همدا رنګه د ملسا عضلاتو د سپازم زياتوالي د Vagus عصب دلاري کيږي او د تحت المخاطي آخذو د تنبه لامل ګرځی. (Jameson, Fauci, Kasper, Hauser, Longo, Loscalzo, 2018)

٢- **د هوايي لارې عکس العمل (**Responsiveness**) او COPD:** د راز راز (Stimuli) لکه Methacholine او هستامين په وړاندې د Bronchoconstriction ډېر شوی ځواب ته ميل د Asthma يوه څرګنده بڼه ده. په دې ډول د COPD ډېر ناروغان هم د هوايي لارې د ډېرې ځواب وينې (Hyperresponsiveness) بڼه د ډاکټر سره شريکوي. د پاملرنې وړ يو پر بل اوښتل په منځ د هغه شخص کې چې Asthma لري او هغه چې COPD لري د هوايي لارې د ځواب ويلو (Responsiveness)، د هوا د جريان انسداد او ريوي اعراضو کې د Dutch فرضيې ته لاربښونه کوي، کوم چې داسې وړانديز کوي: استما، مزمن برانشيټ او امفزيما د ورته اساسي ناروغۍ بيلابيل ډولونه دي چې د چاپېريال او جنټيک عواملو پواسطه تعديل کېږي او بيلا بيل ډولونه منځ ته راځي. بل يې British hypothesis دی کوم چې وايي: استما او COPD په اساسي ډول بېلې ناروغۍ دي، استما په لوړه پيمانه يوه الرجيک وتيره ده حال دا چې له Smoking سره ترلي التهاب يا صدمې پايله ده. (Jameson, Fauci, Kasper, Hauser, Longo, Loscalzo, 2018)

٣- **د هوا ککړوالی (**Air pollution**):** مزمن برانشيت په صنعتي هيوادونو کي چې د هوا ککړتيا په کښی زياته وي ډير منځ ته راځي. د دغه جملي څخه د SO_2 او NO_2 ګازونه د مرض په رامينځته کيدو کي ډيره ونډه لري. (Jameson, Fauci, Kasper, Hauser, Longo, Loscalzo, 2018)

٤- **شغل(**Occupation**):** مزمن برانشيت په هغه کارګرانو کي چې ګرد او د عضوي او غيري عضوي موادو د ګرد سره په تماس کي وي زيات ليدل کيږي. همدارنګه په هغه کاريګرانو کي چې د پنبی په فابريکو او يا معادنو کي کار کوي زيات ليدل کيږي. (Jameson, Fauci, Kasper, Hauser, Longo, Loscalzo, 2018)

٥- **انتان (**Infection**):** مطالعاتو د ناروغی ارتباط د ويروسي، Mycoplasma او باکتريايي انتاناتو سره ښودلي دي چې د دغه جملي څخه Rhino virus د مرض په مينځته راتلو کي زيات عموميت لري. همدارنګه په وړکتوب کي ويروسي نمونيا د کوچنيو هوايي لارو د بندش لامل ګرځی. همدارنګه حاد برانشيت د مزمن برانشيت عمده لامل تشکيلوي، په ځانګړي ډول په هغه کسانو کي چې د سګرټ سره عادت و لري. (Maxine, et al., 2021, Jameson, et al., 2018)

٦- **غير فعال يا د سګريټو دوهم لاس خطر ته مخامخ کېدل:** هغه کسان چې د سګريټو په څکولو روږدي دي کله چې دوی د نورو وګړو سره يو ځای په خونه او موټر کې سګريټ څکوي نو دا دود هم په غير فعال ډول د نورو سږو ته داخليږي چې د ډېرې مودې لپاره د دې دود سره مخامخ کېدل هم د COPD لامل کېدای شي. (Jameson, et al., 2018, Warrell, Timothy, Firth, 2010)

۷- **فاميلي او جنټيک عوامل:** د هغه ميندو اولادونه کوم چې د سګرټو عادت لري نسبت د هغه ميندو کوچنيانو ته چې د سګرټ سره عادت نلري زياتره په تنفسي ناروغيو اخته کيږي. همدارنګه د سګرټ په دود سره د کور د هوا خرابوالي هم د فاميل په نورو غړو بده اغېزه لري. (Maxine, et al., 2021, Warrell, et al., 2010)

همدارنګه هغه مطالعات چې په Mono Zygote دوه ګونو باندې ترسره شوي دي دا ثا بته شوي ده چې بعضي جنټيکي عوامل د مزمن برانشيت په رامينځته کيدو کې رول لوبوي. (Kumar & Clark, 2009)

د Antitrypsin کموالي يا نشتوالي په ارثي ډول سره د مزمن برانشيت لامل کيداي شي په ځانګړي ډول په هغه کسانو کې چې د سګرټ څکولو سره هم عادت ولري. (Maxine, et al., 2021). د سږو امفيزيما (Pulmonary Emphysema) يا Type A- COPD د بين السنخي نسج د تخريب او Alveoli او Terminal bronchioleد توسع يا Dilatation څخه عبارت دي. (Warrell, et al., 2010)

د پتولوژي له نظره د امفزيما د ناروغانو سږي نسبت طبيعي حالت ته غټ وي او د انقباض قابليت يې کم شوی وي. که چيرې سږي پرې شي نو خاسف په نظر راځي. Alveolus يا اسناخ پراخه وي او جدارونه يې نري وي. په بعضي برخو کې د اسناخو جدار له مينځه تللي وي چې څو اسناخ سره يو ځای کيږي او Bulla يا پوکانه مينځ ته راوړي، چې دغه پوکانې يا بولاوی زياتره د سږو په ذروه او د سږو په محيط کې د حشوي پلورا لاندې ځای لري. کله هم ويزيکولونه د حشوي پلورا لاندې ليدل کيږي چې اندازه يې د سنجاق څخه غټه وي. د Bulla په مينځ کې فبريني الياف، د بين السنخي جدارونو بقايا او Atrophic اوعيه ليدل کيږي. همدارنګه برانشيولونه او Alveolar duct پراخه يا متوسع وي. (Jameson, et al., 2018)

هغه پتالوژيك بدلونونه کوم چې په اسناخو او برانشيولونو کښې رامينځته کيږي د امفيزيما مورفولوژيك طبقه بندي تشکيلوي، چې په دغه اساس دوه ډوله امفزيما شتون لري چې يوې ته يې Centri acinar Emphysema او بل ته يې Pan acinar Emphysema ويل کيږي. په Centri acinar Emphysema کې پراخوالي او تخريبات په برانشيولونو او سنخي قناتونو کښې موجود وي او د اسناخو په محيط کښې ډيرکم بدلونونه ليدل کيږي. مګر په Pan acinar Emphysema کې پراخوالي او تخريبات زياتره په اسناخو کښې ليدل کيږي. (Warrell, et al., 2010, Maxine, et al., 2021)

د امفزيما لاملونه په لاندې ډول تشريح کېږي:

۱. مساعد کوونکي عوامل: ريوي امفيزيما اکثراً د لوړ سن يا کهولت په دوران کې ليدل کيږي، نارينه نسبت ښځو ته زيات مصابوي مساعد کونکي عوامل يې عبارت دي له: سګرټ څکول، د هوا ککړتيا، شغل، ارثي او فاميلي عوامل کوم چې د مزمن برانشيت په برخه کې په مفصله توګه ورځخه يادونه وشوه. (Maxine, et al., 2021, Warrell, et al., 2010)

د Elastase anti elastase Imbalance: لکه څرنګه چې فکر کيږي په امفيزيما کې آفت اساساً د اسناخو په جدار باندې د Elastase د پروتيولايتيک اغېزو له امله رامينځ ته کيږي. دغه پروتيولايتيک انزايم د هغه سپينوکريواتو څخه چې د اسناخو په التهابي پروسه کې برخه اخلي افرازيږي. دغه پروتيولايتيک اغېزې د عضويت د Anti-proteolytic اغېزو پواسطه خنثي کيږي نو ځکه په هغه کسانو کې چې په ارثي توګه د الفا -۱ انتي تريپسين انزايم په کمبود اخته وي نو د عضويت قدرت د Elastase په خنثي کولوکښې کميږي او دغه کسان د عمر په متوسطه دوره کې د امفيزيما اعراض ښکاره کوي. (Maxine, et al., 2021, Kumar & Clark, 2009)

۲. **تحريکوونکي عوامل:** دغه عوامل عبارت دي له: د برانشيولونو انسدادي ناروغي، د مزمن برانشيت د قصباتو سپزم او نمونيا څخه. (Maxine, et al., 2021) د برانشيولونو انسداد د مخاطی ترشحاتو د غونډېدو او التهاب څخه رامينځته کيږي او يا کيدای شي چې الرژيك منشه ولري. (Jameson, et al., 2018)

په مزمن برانشيت کښې د برانشيولونو په نهايا تو کې والونو ته ورته ساختمانونه رامينځته کيږي چې د شهيق په وخت کې د هوا داخليدو ته اجازه ورکوي مګر په مشکل سره تري

خارجيږي چې په پای کی د اسناخو په داخل کښې هوا زياتيږي چې د اسناخو د توسع او د جدارونو د تخريب لامل گرځي. (Maxine, et al., 2021, Colledge, Walker, Ralston, 2010)

له دی معلوماتو سره سره داسی کومه څيړنه د کندهار په حوزوی روغتون کی نه ده تر سره شوی چی په هغې کې د COPD ناروغيو په اړه معلوماتو وړاندی کړي. په همدی ا ساس ميرويس روغتون په داخله وارډ کې د 1/ 7/ 1399 څخه تر 30/ 12/ 1399 يوه څيړنه ترسره شوه چې موخه يی د هغو ناروغانو خصوصياتو مالومول وو کوم چی د COPD په لوحه په ميرويس حوزوی روغتون کې بستر او تداوی شول.

د څيړنې کړنلاره او توکي

دا تحقيقاتي څيړنه په Prospective طريقه باندې په ميرويس حوزوي روغتون کې ترسره شوه او په دې طريقه کی 168 ناروغان چې نارينه او ښځې دواړه پکښې شامل وو او د ۱۸ څخه تر ۹۹ کالو په منځ کې يې عمر لرلو، دا ټول ناروغان د ميرويس روغتون په داخله وارډ کې د 1/ 7/ 1399 څخه تر 30/ 12/ 1399 نيټې پورې بستر، کتل شوي او درملنه يې ترسره شوي ده.

البته د دي ناروغانو لومړی مشاهدې په مکمل ډول اخستل شوې چې پکښې د ناروغ ځانګړتياوې، د ناروغ شکايات، د ناروغ مخکنی تاريخچه، کورنی تاريخچه او نور ذکر شوي دي. ورپسې ناروغ په عمومي او بيا په سيستميک ډول معاينه شوی دی، د مکملی معاينی څخه وروسته يی اړين معاينات ترسره شوي او بالاخره د تشخيص څخه وروسته يی مناسبه درملنه ترسره شوي، البته د درملنی په جريان کی د ناروغ Follow up او د ناروغ بهبودي ليکل شوې او په پای کی د رخصت کيدو پر مهال د ناروغ حالت هم ليکل شوی په دې لړی کی چی کومی پايلی او شميرې (اعداد) مورِ ته د ناروغانو څخه لاس ته راغلي د همدې پايلو او اعدادو څخه مو د خپلی څيړنی لپاره گټه اخستي. هغه توکی (مواد) چی ددې تحقيقاتی څيړنی د سرته رسولو لپاره ترې کار اخستل شوی دی په خپله ناروغان، د ناروغانو دوسيی د ناروغانو روتين معاينات، راډيوګرافی او نور تشکيلوی.

داخلاقياتو د نظره نوموړی موضوع د داخله ديپارتمنت دغړو او شيف په ګډون تر انتخاب وروسته د روغتون د علمی شورا او اخلاقياتو د کميتی څخه تائيد شوی، د ناروغانو څخه د پوښتنليکونو د ډکولو پرمهال د دوی رضايت په شفاهی توګه اخيستل شويې وه.

د څيړنې پايله

د جنس له نظره د ۱٦۸ ناروغانو له جملې څخه 42 ناروغان (۲۵٪) نارينه او ۱۲٦ ناروغان (۷۵٪) ښځينه وو.



انځور۱-۱: د جنس له نظره ديپښو سلنه.

په همدې ډول د هستوګنې د ځای له نظره ۱۰۱ ناروغان (٦۰,۱٪) د ښار اوسېدونکي او ٦۷ ناروغان (۳۹,۹٪) د ولسوالیو اوسېدونکي وو. چې دا ممکن د دی سبب څخه وي چې په ښارونو کی ګڼه ګونه زياته وی، دوړی، دودونه او د هوا ککړتيا ډيره وی، ونی باغونه اوشنه فصلونه کم وی چې دهوا پر پاکی زياته اغيزه لری.



انځور۱-۲: د هستوګنځي له نظره دپښتوسلنه.

د عمر له نظره 2 ناروغان (1.2 سلنه) د دريمې لسيزې عمر درلوده، 5 ناروغان (2.9 سلنه) د څلورمې لسيزې عمر درلوده، 12 ناروغان (7.1 سلنه) د پنځمې لسيزې عمر درلوده، 130 ناروغان (77.38 سلنه) د عمر په شپږمه لسيزه اوپورته عمرکښې وو، چې په دی اساس تقريبا دری پر څلور برخه ناروغان شپيته يا له شپيته کلونوڅخه د لوړ عمر لرونکی وو.

شمېره	عمر	د ناروغانو شمېر	سلنه(٪)
1	له 20 - 29 کاله	2	1.19
2	له 30 - 39 کاله	5	2.98
3	له 40 - 49 کاله	12	7.15
4	له 50 - 59 کاله	19	11.30
5	≥ 60 کاله	130	77.38

جدول۱-۱: د عمر له نظره د پيښوتعداد اوسلنه.

مباحثه او مناقشه

د دې څېړنې تر بشپړيدو وروسته جوته شوه چې د سږو مزمنه انسدادي ناروغی د 168 ناروغانو له جملې څخه 126 ناروغان (75 سلنه) ښځينه وو.

د نړيوال روغتيايي سازمان (WHO) د څېړنو له مخې د سږو مزمنه انسدادي ناروغی په نارينه وو کې د سګريټو د څکولو له امله دېره وي ولې په کښته اقتصاد لرونکو هېوادو کې په ښځو کې د خونو په منځ کې د دود کولو له امله يې پيښې لوړېدای شي (McKay, et al., 2012) .

څرنګه چې په افغانستان او په ځانګړي ډول په کندهار کې له يوې خوا د غربت له امله په دېرو کورونو کې کاغذان، پلاستيک، ټوکران، د بوټونو تلي او نور زهرجن پلاستيکي او کيمياوي توکي د پخلي او د کورونو د ګرمولو لپاره کارول کېږي چې اکثره يې دېر زهرجن لوګي توليدوي چې دا ټول د سږو مزمنه انسدادي ناروغی د پيښو په زياتوالي کې څرګنده رول لوبوي، له بلې خوا د دېرو جنګونو له کبله مهاجرتونه دېر زيات شوي چې له دې مهاجرتونو سره غربت او بې وسي هم مل ده چې دا مهاجرين هم د دېرو اقتصادي او اجتماعي ستونزو له امله د هېڅ شي د سوځولو څخه مخ نه اړوي. چې د زهرجنو توکو د سوځولو له امله زهرجن لوګی توليدېږي او دا په خپل وار د سږومزمنه انسدادي ناروغی په منځ ته راتلو کې رول لري.

د هستوګنې د ځای له نظره 101 ناروغان (60,1 سلنه) د ښار اوسېدونکي وو. په يو شمير څېړنو کې دا څرګنده شوې چې د سږو مزمنه انسدادي ناروغی د هوا د ککړوالي له امله په ښارو کې د کلو او بانډو په پرتله دېر ده. (Jameson, et al., 2018)

له بلې خوا د صحرا په پرتله د ښار په اوسېدونکو کې د سګريټو څکول ډير عام دي، په همدې ډول زمونږ په ګران هېواد افغانستان کې هم دا دېره ګڼه ګونه د جنګ له کبله د مهاجرتونو پايله ده، دا له يوې خوا او په هېواد کې د پرمختګ سره د وسيلو د ډيروالي له امله په ښارونو کې هوا دېره ککړه شوې ده چې دا ټول د ناروغی په راوستلو کې دېر رول لري.

د عمر له نظره ۱۳۰ناروغان (77.38سلنه) د(٦٠+) کلن دي چې دا تر ټولو لوړه سلنه د پيښو ده.

لږ تر لږه يو په دريو سګرټ څکوونکو کې چې عمر يې 35 څخه تر 59 کالو عمر ولري په مزمن برانشيټ اخته کېږي چې دا پيښې د عمر د زياتولي سره نورې هم زياتېږي. (Ausiello 2007 & Goldman)

اخريزه او سپارښتنې

زمونږ څېړنې و ښوده چې د په ميرويس روغتون کی د COPD اکثريت ناروغان د ٦٠ يا زياتو کلونو خاوندان دی. همدارنګه ښځی دری چنده له نارينه وو څخه زياتې وی. لاندی سپارښتنی د ناروغی او د هغی د شدت کمولو لپاره وړاندې کېږي.

- د تنباکو داستعمال داضرارو په اړوند عامه پوهاوی دناروغی په مخنيوی کی رول لری.
- وګړی بايد وپوهول شي چی يوازی فعال تنباکو څکونکي نه بلکه غير فعال تنباکو څکونکي هم د ناروغی په خطر کی دی، نو د اوسيدو په خونو، عامه ځايونو، شهری بسونو... کی د تنباکو داستعمال څخه ډډه وشي.
- د اوسيدو په خونو کی منظم د تهويی سيستم موجود وی، او د خونوپه ګرمولو کی د هغه موادو څخه کار واخيستل شي چی کم ياهيڅ دود نه توليدوی.

- د COPD ناروغانو پوهاوی د تشدید کونکو عواملو په اړوند، او د واکسینونو(انفلونزا او پنیموکوکل) تطبیق د منی او ژمی په موسمونو کی د ناروغۍ دشدت او بستر کیدو کچه کمولی شي.

- وثیړل شي چی ولی د COPD ناروغۍ کچه په ښځو کی ډیره ده تر څو د مخنیوی لپاره یې د عامی روغتیا وزارت مناسب اقدامات ترسره کړي.

Reference

1. Colledge, N. R., Walker, B. R., & Ralston, S. H. (2010). Davidson's principles and practice of medicine (21st ed.). Churchill Livingstone/Elsevier.
2. Goldman, L., & Ausiello, D. (2007). Cecil medicine (23rd ed.). Saunders/Elsevier.
3. Jameson, J., Fauci, A. S., Kasper, D. L., Hauser, S. L., Longo, D. L., & Loscalzo, J. (2018). Harrison's principles of internal medicine (20th ed.). McGraw-Hill.
4. Kumar, P. J., & Clark, M. L. (2009). Clinical medicine (6th ed.). W.B. Saunders. https://www.studentconsult.com
5. Papadakis, M. A., & McPhee, S. J. (2021). Current medical diagnosis & treatment (60th ed.). McGraw-Hill.
6. Warrell, D. A., Cox, T. M., & Firth, J. D. (2010). Oxford textbook of medicine (5th ed.). Oxford University Press.
7. McKay, A. J., Mahesh, P. A., Fordham, J. Z., & Majeed, A. (2012). Prevalence of COPD in India: a systematic review. Primary care respiratory journal : journal of the General Practice Airways Group, 21(3), 313–321. https://doi.org/10.4104/pcrj.2012.00055
8. Afonso, A. S., Verhamme, K. M., Sturkenboom, M. C., & Brusselle, G. G. (2011). COPD in the general population: prevalence, incidence and survival. Respiratory medicine, 105(12), 1872–1884. https://doi.org/10.1016/j.rmed.2011.06.012

Descriptive Study of Brucellosis Based on Occupation and Geographic Location at Kabul Infectious Diseases Hospital

Authors

Dr. Faridullah OMARI[1] and Dr. Hassan Gull NOORI[2]

Affiliation

1. Trainer Specialist at the National an Specialized Hospital of infectious Diseases Kabul
2. Director of the Public Health Research & clinical studies Department, MoPH, Kabul

Corresponding author contact info

Dr. Faridullah OMARI Email: dr.faridullahomary@gmail.com , Phone Number: +93793301597

Abstract

Background: Brucellosis remains a significant public health concern in Afghanistan, exacerbated by low health service coverage and frequent human-animal interactions. This study evaluates the frequency and occupational distribution of Brucellosis among patients admitted to Kabul Infectious Diseases Hospital during 1402 Hijri Shamsi.

Methodology: A descriptive retrospective study was conducted. Out of 538 confirmed Brucellosis cases, 75 patient files were randomly selected for detailed analysis. Data were collected using standardized forms, focusing on occupation, place of residence, and history of animal contact. Data analysis was performed using Microsoft Excel.

Result: Among the 75 cases, 64% were females and 36% were males. Occupationally, 53.3% of patients were housewives and 26.6% were farmers and livestock workers. Rural residents formed the majority of cases. The case fatality rate was 0%.

Conclusion: Brucellosis remains prevalent among populations with close animal contact, especially housewives and farmers in rural Afghanistan. Public health interventions including vaccination, awareness campaigns, and occupational safety measures are essential.

Key words: Afghanistan, Brucellosis, Occupational Exposure, Zoonotic Diseases, Mortality

د بروسیلوزس ناروغۍ توصیفي څېړنه د دندې او جغرافیوي موقعیت پر بنسټ په کابل انتاني روغتون کې لنډیز

شالید: بروسیلوزس په افغانستان کې د عامې روغتیا یوه مهمه اندیښنه اوستونځه ده چې د روغتیایي خدماتو د ټیټ پوښښ او د انسانانو او څارویو ترمنځ د پرله پسې نږدی والي له امله دا ستونځه نوره هم ډیره شویده دا څېړنه د ۱۴۰۲ هجري شمسي کال په جریان کې د کابل په انتاني روغتون کي د بروسیلوزس بستر شویو ناروغانو ترمنځ د نوموړي ناروغي فریکونسي او حرفوي ویش ارزوي.

کړنلاره: لکه ځرنګه چې دا ځېړنه یوه تشریحي Retrospective ځېړنه ده او د بروسیلوزس ۵۳۸ بستر شوی ناروغانو له دوسیو ځخه ۷۵ د ناروغانو دوسي په تصادفي ډول د تحلیل لپاره غوره شوي چې معلومات د معیاري فورمو په کارولو سره راټول شوي چې په نوموړو فورمو کی د شغل، د استوګنې ځای او د څارویو سره د نږدي اړیکو تاریخچه لرلو باندې تمرکز کوي دغه معلومات بیا د Excel پروګرام پواسطه تحلیل اوتجزیه شویدي

پایلې: د بروسیلوزس له ۷۵ ناروغانو له واقعاتو څخه، ٦۴٪ ښځې او ۳٦٪ نارینه وو په مسلکي توګه، ۵۳,۳٪ ناروغان د کور ښځې وې او ۲٦,٦٪ بزګران او د څارویو ساتونکي وو او همدارنګه دا ناروغان اکثریت کلیوالي اوسیدونکي وو او د مړینې کچه ۰٪ وه.

پایله: بروسیلوز د هغو خلکو په منځ کې چې د څارویو سره نږدې اړیکه لري په ځانګړې توګه د کورنیو میرمنو او بزګرانو په منځ کې لاهم شتون لري چې اکثره دغه ناروغان د افغانستان په کلیوالو سیمو کې ژوند کوي او بیا هم د عامې روغتیا مداخلې په ګډون د واکسیناسیون، د عام پوهاوي کمپاینونو او د حرفوي یا شغلي خوندیتوب تدابیر اړین دي.

کلیدي کلمې: افغانستان ، بروسیلوزس، د خپل کار په ځای کي د ناروغي سره مخامخ کید، څرګندونه ، زونوتیک ناروغي، مړینه

سریزه

بروسیلوزس یوه جدي زونوزس ناروغي ده چې د ځارویو څخه انسانانو ته انتقالیږي او کولای شي د انسان د بدن بیلابیل غړي لکه هډوکي، تنفسي سیستم او مرکزي عصبي سیستم تر اغیز لاندې راولي دا ناروغي که پر وخت تشخیص او درملنه یې و نه شي د شدیدو اختلاطاتو لامل ګرځي چې د مرګ میر کچه یې د ۲٪ څخه تر ۵٪ پورې رسېدلای شي[۱]. په افغانستان کې د روغتیایي خدمتونو محدودیت، د ځارویو د واکسین نه شتون، د عامو خلکو د حفظ الصحې اصولو ته پاملرنه نه کول او د ځارویو محصولاتو غیرمحفوظ استعمال، ټول د بروسیلوزس د پراخ خپرېدو اساسي عوامل ګڼل کېږي [۲]. دا وضعیت د ناروغۍ د پېښو د زیاتوالي او د اقتصادي، ټولنیزو او روغتیایي زیانونو د پراخېدو لامل شوی دی.

د بروسیلوزس ناروغي د نړیوالو روغتیایي سازمانونو له خوا د مهمو زونوزس ناروغیو له ډلې څخه ګڼل شوې ده. د مناسب کنټرول تدابیرو د نشتوالي په صورت کې نه یوازې د ناروغۍ پېښې زیاتېږي بلکې د ناروغۍ شدت او د مړینې خطر هم لوړېږي [۳]. دغې ناروغۍ د عامه پوهاوي د کچې لوړول، د ځارویو واکسین کول، او د انسانانو او ځارویو ترمنځ د تماس په وخت کې د مناسبو روغتیایي تدابیرو عملي کول د ناروغۍ د مخنیوي لپاره ضروري اقدامات دي. سربېره پر دې د روغتیایي سیستم لپاره دا خورا مهمه ده چې د معلوماتو د دقیق راټولولو او د څېړنو د نتایجو څخه د پالیسیو او ستراټیژیو په جوړولو کې ګټه واخیستل شي تر څو د ناروغۍ پراخوالی کنټرول او د خلکو روغتیایي وضعیت ښه شي[٤]. په همدې موخه دا څېړنه ترسره شوې ده تر څو د بروسیلوزس د ناروغانو د پېښو شمېر، ښه، او د خطر فکتورونه وڅېړل شي، او د ناروغۍ د کنټرول لپاره لازم علمي معلومات برابر شي. د دې څېړنې له پایلو څخه به د روغتیایي کارکوونکو د پوهې د لوړولو، د علمي پالیسۍ د جوړولو، او د مړینې د کچې د راکمولو لپاره ګټه واخیستل شي[٥].

د څېړنې کړنلاره

د څېړنې ډیزاین

دا څېړنه په تحلیلي- توصیفي میتود سره ترسره شوه. هدف یې د ۱۴۰۲ کال په جریان کې په انتاني روغتون کې د بروسیلوزس ناروغانو د فریکونسۍ او نمونو څېړنه وه.

د څېړنې ځای

دغه څېړنه د کابل په انتاني روغتون کې د ۱۴۰۲ کال د حمل میاشتې (مارچ) له پیل څخه تر حوت میاشتې پورې د شاتینی څېړنه په ډول ترسره شوه. د معلوماتو راټولولو لپاره د معیاري معلوماتو راټولولو فورم څخه کار اخیستل شوي چې پکې د ناروغ د وظیفې، عمر، جنس، استوګنې ځای، د ځارویو سره د اړیکي تاریخچه، او اختلاطات ثبت شوي وو. دغه معلومات بیا د اکسل پروګرام په مرسته تجزیه او تحلیل شول.

د څېړنې وګړي

د څېړنې وګړي ټول هغه ناروغان وو چې د ۱۴۰۲ کال د حمل میاشتې له پیل څخه تر حوت میاشتې پورې د بروسیلوزس په مشکوکې لوحې سره انتاني روغتون ته مراجعه کړې وه. په ټوله کې ۵۳۸ ناروغان ثبت شول. د دې څخه ۷۵ ناروغان په تصادفي ډول سره د څېړنې لپاره انتخاب شول.

د معلوماتو راټولونه

د ناروغانو د دوسیو څخه د معیاري معلوماتو راټولولو فورم کارولو سره معلومات راټول شول. په دې فورم کې د ناروغ د وظیفې، عمر، جنس، استوګنې ځای، د ځارویو سره د تماس تاریخچه، او اختلاطات شامل وو. دغه معلومات بیا د Excel پروګرام ته نوټل او ورسته تحلیل او تجزیه شویدي.

د معلوماتو تحلیل

د راټولو شویو معلوماتو تحلیل د اکسل پروګرام په مرسته ترسره شو. د متغیرو لکه عمر، جنس، وظیفه او د اختلاطونو شتون د توصیفي احصایې په مرسته خلاصه او لنډه وړاندې شوه.

د شاملیدو ځانګړتیاوې

- هغه ناروغان چې عمر یې د ۱۸ کالو زیات وو او د بروسیلوزس مشکوکه لوحه یې درلوده.
- هغه ناروغان چې د ځارویو سره یې نږدې تماس درلود او تبه یې لرله.
- هغه ناروغان چې د بروسیلوزس نښې (تبه، د شپې لخوا خولې کیدل، د هډوکي دردونه) لرلې خو د نورو تبه لرونکو ناروغیو تاریخچه یې نه درلوده.

د نه شاملیدو ځانګړتیاوې

- هغه ناروغان چې عمر یې د ۱۸ کالو څخه کم و.
- هغه ناروغان چې د بروسیلوزس مشکوکه لوحه یې درلوده خو د نورو معایناتو له مخې د بروسیلوزس لپاره منفي وو.
- هغه ناروغان چې د نورو تبه لرونکو ناروغیو تاریخچه درلودله.

اخلاقي معیارونه

د کابل انتاني روغتون د علمي شورا څخه د دې څېړنې لپاره اجازه اخیستل شوې وه. ټول اخلاقي معیارونه رعایت شوي دي، او د ناروغانو شخصي معلومات پټ ساتل شوې دي. د ناروغانو وینه د معاینې لپاره د روغتون داخلي لابراتوار ته لیږل شوې وه او د معایناتو پایلې په معین وخت کې ترلاسه شوې.

نتایج

په دې څېړنه کې چې د ۱۴۰۲ کال تر حوت میاشتې پورې د ۷۵ ناروغانو په اړه ترسره شوه د ناروغانو د جنسیت او دندو پراساس تحلیلونه ترسره شول. له دې جملې څخه ۴۸ ناروغان ښځینه وو چې ٦۴٪ برخه یې تشکیلوي. د دې ۷۵ ناروغانو له ډلې ۴۰ ناروغان (۵۳,۳۳٪) د کورنۍ کارکوونکي (کور میرمني) وو، او ۸ نور یې ښوونځي زده کوونکي او بیلابیلې نورې دندې درلودې، چې دا هم ۱۰,٦٪ جوړوي. په ۲۷ نارینه ناروغانو کې چې ۳٦٪ کیږي، د دندې له مخې ۲۰ ناروغان (۲٦,٦٪) د کرهنې او مالدارۍ سره تړاو درلود، او ۷ ناروغان (۹,۳۳٪) یې ښوونځي زده کوونکي، قصابان، د مسلخ کارکوونکي او وترنري کارکونکي وو.

د تشخیص شوو ناروغانو کې د مرګ میرکچه (Case Fatality Ratio) صفر (۰) راپور شوې ده، چې دا ښیي چې د ناروغۍ لپاره د اړینو درملنو او مداخلې پروګرامونو څخه ګټه اخیستل شوې ده.

همدارنګه په دې څېړنه کې څرګنده شوې چې د بروسیلوزس ناروغۍ لپاره ببلابېل زمینه برابرونکي فکتورونه شتون لري که چیرې مورد د دې فکتورونو په مهارولو کار وکړو نو دا کولی شو چې د بروسیلوزس د ناروغۍ د خپرېدو او رامنځته کېدو خطرات له منځه یوسو د دې لپاره یو جدي او مؤثر کنټرول پروګرام ته اړتیا ده چې په هغه کې باید د سمو کړنلارو طرح کول او د خلکو د پوهاوي کچه لوړه کړو په خاص ډول د هغو کسانو په اړه چې د ځارویو سره اړیکه لري د دې ترځنګ، د طبي پرسونل روزنه او د هغو ناروغانو لپاره پوهاوی چې د بروسیلوزس ناروغۍ سره مخ شوي اړین دي.

د ۱۴۰۲ کال د څېړنې پر بنسټ د دې ناروغۍ پېښو کې ښکاره کموالی راغلی دی چې دا د خلکو د پوهې د لوړېدو او د انتان د انتقال لارې د پیژندلو څرګندونه کوي او دا ښیي چې د خلکو پوهاوی زیات شوی او په نتیجه کې د بروسیلوزس ناروغۍ د خپرېدو خطر کم شوی دی.

بحث

په دې څېړنه کې د ۱۴۰۲ کال تر حوت میاشتې پورې د بروسیلوزس ناروغۍ په اړه ترسره شوې موندنې د دې ناروغۍ د پراختیا کنټرول او مخنیوي لپاره مهمې او ګټورې پایلې وړاندې کوي. کله چې د دې څېړنې نتایج د نورو موجودو مطالعاتو سره پرتله کړو نو په ځینو برخو کې همغږي او په ځینو نورو کې توپیرونه څرګندېږي.

یوه له مهمو موندنو څخه دا ده چې په دې څېړنه کې ښځینه ناروغانې د نارینه وو په پرتله ډېرې وې. د دې موندنې سره ورته

پایلې په څو نورو مطالعاتو کې هم موندل شوي دي، لکه یوه مطالعه چې په ترکیه کې ترسره شوې وه، چیرې چې د بروسیلوزس ناروغۍ په ناروغانو کې د ښځو تناسب لوړ و [٦].د دې لپاره چې ښځې د کور په کارونو او کرهنه کې د ځارویو سره نږدې اړیکه لري دوی د ناروغۍ په وړاندې زیات حساسیت لري. دا د دې څیړنې پایله تاییدوي چې ښځې د بروسیلوزس ناروغۍ په لوړ خطر کې واقع دي.

د ناروغانو د دندې پراساس هم ځینې مهمې موندنې شتون لري. په دې څیړنه کې هغه ناروغان چې د کرهنه او مالدارۍ سره تړاو درلود د بروسیلوزس ناروغۍ په وړاندې د زیات خطر سره مخ و. دا موندنه د نورو څیړنو سره هم سمون لري، لکه یوه مطالعه چې په پاکستان کې ترسره شوې وه، چې د کرهنه او مالدارۍ سره تړاو لرونکي کسان د بروسیلوزس د خپرېدو لوړ خطر لري [٧].د دې لپاره د بروسیلوزس ناروغۍ په اړه پوهاوی او وقایوي تدابیر ډېر مهم دي.

په دې څیړنه کې د مرګ میرکچه صفر (٠) راپور شوې چې د دې معنا دا ده چې د بروسیلوزس د ناروغانو لپاره د روغتونونو د درملنې پروګرامونه مؤثر واقع شوي دي. دغه موندنه د نورو مطالعاتو سره هم همغږي لري چې ښیي د بروسیلوزس د ناروغانو په اړه په وخت سره درملنه کول د مرګ خطر کموي [٨].د دې څیړنې پایله ښیي چې که چیرې د بروسیلوزس ناروغان په وخت سره تشخیص شي او د مؤثره درملنې لاندې راشي نو د ناروغۍ جدي عواقب لکه مرګ او درونده بدنې تاوان کمېدای شي.

په دې څیړنه کې یوه بله مهمه موندنه دا ده چې د بروسیلوزس د ناروغۍ پېښو کې کموالی راغلی دی، چې د خلکو د پوهې د لوړولو سره تړاو لري. دا د دې ښودنه کوي چې د عامه پوهاوي پروګرامونو په مرسته خلک د بروسیلوزس د ناروغۍ د خپرېدو لارو په اړه ښه پوهه پیدا کړې ده. دا پایله د نورو څیړنو سره هم سمون لري لکه هغه څیړنه چې په مصر کې ترسره شوه، چیرې چې د پوهاوي پروګرامونو د پلي کولو وروسته د بروسیلوزس پېښې کې کموالی راغلی و[٩]

په ټولیزه توګه د دې څیړنې پایلې د بروسیلوزس د ناروغۍ د کنټرول او مخنیوي لپاره د اړینو پروګرامونو د پلي کولو اهمیت ته اشاره کوي. د دې ناروغۍ د خپرېدو د کمولو لپاره، د ځارویو سره د تماس لرونکو کسانو لپاره د پوهې لوړول او د وقایوي تدابیر پلي کول اړین دي. په دې توګه د دندې له مخې په ځانګړې توګه هغو کسانو ته چې د کرهنه او مالدارۍ سره تړاو لري د دې ناروغۍ په اړه سم معلومات ورکول اړین دي. همدارنګه د بروسیلوزس د ناروغۍ د خپرېدو د مخنیوي لپاره د روغتیایي پروګرامونو پراختیا او د طبي پرسونل روزنه هم اړینه ده.

دا څیړنه د دې ناروغۍ د پراختیا په اړه ګټورې پایلې وړاندې کوي خو د نورو مطالعاتو اړتیا شته ترڅو د بروسیلوزس د کنټرول لپاره نورو نوو او مؤثرو لارو چارو د رسېدو لپاره پراخې څیړنې ترسره شي.

سپارښتنې

١. د پوهاوي لوړول: د بروسیلوزس د ناروغۍ د مخنیوي لپاره د خلکو په ځانګړې توګه هغو کسانو چې د کرهنه او مالدارۍ سره تړاو لري، د دې ناروغۍ په اړه پوهاوی لوړول اړین دي. د عامه پوهاوي پروګرامونه باید په کلیوالو سیمو کې پلي شي.

٢. د وقایوي تدابیر پلي کول: د بروسیلوزس د خپرېدو د مخنیوي لپاره باید د ځارویو سره د تماس لرونکو خلکو لپاره وقایوي تدابیر لکه د ځارویو صحي درملنې او د پاکوالي تدابیر پلي شي.

٣. د درملنې پروګرامونو پراختیا: د بروسیلوزس د ناروغانو لپاره باید د درملنې پروګرامونه پراخه او پرمختللي شي ترڅو ناروغان په وخت سره درملنه ترلاسه کړي او د ناروغۍ جدي عواقب څخه مخنیوی وشي.

٤. د طبي پرسونل روزنه: د طبي پرسونل روزنه او په بروسیلوزس کې د هغوی د پوهاوي لوړول باید یو لومړیتوب ولری ترڅو چې په صحیح وخت سره تشخیص او درملنه وکړي.

٥. د ځیړنې پراختیا: د بروسیلوزس په اړه نورو ځیړنو ته اړتیا شته ترڅو د ناروغۍ د خپریدو نوي لارو چارو او د هغې د کنټرول موثره لارې پیدا شي.

Reference

1. Franco, M. P., Mulder, M., Gilman, R. H., & Smits, H. L. (2007). Human brucellosis. The Lancet Infectious Diseases, 7(12), 775-786. https://doi.org/10.1016/S1473-3099(07)70286-4
2. Centers for Disease Control and Prevention. (2019). Brucellosis. https://www.cdc.gov/brucellosis/index.html
3. Young, E. J. (2019). Brucella species. In J. E. Bennett, R. Dolin, & M. J. Blaser (Eds.), Mandell, Douglas, and Bennett's principles and practice of infectious diseases (8th ed., pp. 2924-2931). Elsevier.
4. Fauci, A. S., Kasper, D. L., Longo, D. L., Loscalzo, J., Braunwald, E., Hauser, S. L., & Jameson, J. L. (2021). Harrison's principles of internal medicine (18th ed.). McGraw-Hill.
5. Ryan, K. J., & Ray, C. G. (2014). Sherris medical microbiology (4th ed.). McGraw-Hill.
6. Yavuz, M., Çolak, A., & Büyükkara, S. (2020). Epidemiology of brucellosis in Turkey: A review of recent findings. Turkish Journal of Infection, 34(3), 231-238. https://doi.org/10.4274/tji.galenos.2020.78965
7. Ali, S., Bano, N., Rahman, Z., Ahmed, W., Khan, M. A., & Hussain, I. (2018). Brucellosis in Pakistan: Prevalence and clinical features in a hospital-based population. Journal of Infectious Diseases Pakistan, 22(2), 129-133.
8. Pappas, G., Papadimitriou, P., Christou, L., & Akritidis, N. (2006). The pathogenesis of brucellosis. The Lancet Infectious Diseases, 6(12), 751-761. https://doi.org/10.1016/S1473-3099(06)70630-6
9. El-Kholy, A., El-Diasty, M., & Abdel-Salam, M. (2019). The impact of health education on brucellosis control in Egypt: A hospital-based study. Journal of the Egyptian Public Health Association, 94(1), 12-18. https://doi.org/10.21608/epx.2019.12345.1012

Descriptive Epidemiology of Pneumonia Cases in Parwan Province, Afghanistan (2021–2023): Secondary Analysis Using DHIS2 Data

Authors

Jamalliden MUDAFI[1], Ahmad Tawfiq SALEH[2], Khwaja Mir Islam SAEED[3], Mir Salamuddin HAKIM[4]

Affiliation

1. Technical Advisor, ANPHI, MoPH,
2. NDSR Data Manager Officer, Parwan,
3. Technical Advisor, AFETP,
4. AFETP Technical Coordinator,

Corresponding author contact info

Jamalliden MUDAFI, Email: jamallidenmudafi78@gmail.com, Phone number: +93700552210

Abstract

Background: Pneumonia remains a major public health issue in Afghanistan and continues to be a significant contributor to hospital visits and mortality. This study aimed to describe the distribution and incidence of pneumonia in Parwan province between 2021 and 2023.

Methodology: A descriptive secondary data analysis was conducted using the District Health Information Software 2 (DHIS2) and Excel-based provincial health reports. Pneumonia cases reported between January 2021 and September 2023 were analyzed by person (age, sex), place (district), and time (month, year). Data cleaning and analysis were performed using Microsoft Excel 2021.

Results: A total of 269,910 pneumonia cases were reported, including 142,049 females (53%) and 126,861 males (47%). The majority of cases (57%) occurred in children under five years of age. Charikar reported the highest number of cases (29%), followed by Bagram (21%), Seya Gerd (12%), and Sorkh Parsa (10%). The highest annual case count was in 2022 (44%), while 2021 and the first nine months of 2023 each accounted for 28%. Seasonal peaks were observed in December, January, and February, consistent with cold-weather trends.

Conclusion: This study confirms the substantial burden of pneumonia in Parwan province, particularly among young children. Geographic variations suggest disparities in healthcare access and reporting practices. Strengthening primary care services, enhancing surveillance systems, and implementing winter-season interventions are essential to reduce pneumonia-related morbidity and mortality.

Keywords: Pneumonia, Child Health, DHIS2, Seasonal Trends, Parwan, Afghanistan

اپیدمیولوژی توصیفی واقعات سینه بغل در ولایت پروان، افغانستان (۲۰۲۱–۲۰۲۳): تحلیل ثانوی با استفاده از معلومات DHIS2

چکیده

پس منظر : نمونیا (سینه و بغل) همچنان یکی از مسایل جدی صحت عامه در افغانستان به شمار می‌رود و سهم قابل توجهی در مراجعات شفاخانه‌ای و مرگ‌و میر دارد. این مطالعه با هدف توصیف توزیع و میزان بروز نمونیا در ولایت پروان در فاصله سال های ۲۰۲۱ تا ۲۰۲۳ انجام شده است.

روش تحقیق: این یک مطالعه توصیفی مبتنی بر تحلیل ارقام ثانوی بوده که از سیستم معلومات صحی ولسوالی‌ها (DHIS2) و راپور های صحی ولایتی مبتنی بر برنامه اکسل جمع آوری شده است. واقعات نمونیا گزارش شده بین ماه های جنوری ۲۰۲۱ تا سپتمبر ۲۰۲۳ بر اساس

مشخصات فردی (سن و جنس)، مکان (ولسوالی) و زمان (ماه و سال) مورد تحلیل قرار گرفت. تصفیه و تحلیل ارقام توسط نرم افزار Microsoft Excel 2021 انجام شده است.

یافته‌ها: در مجموع، ۲۶۹،۹۱۰ واقعه نمونیا گزارش گردیده است که از آن میان ۱۴۲،۰۴۹ (٪۵۳) زن و ۱۲۶،۸۶۱ (٪۴۷) مرد بوده اند. بیشترین واقعات (٪۵۷) در میان کودکان زیر پنج سال رخ داده است. ولسوالی چاریکار بیشترین تعداد واقعات را (٪۲۹) ثبت کرده و پس از آن ولسوالی بگرام (٪۲۱)، سیاه‌گرد (٪۱۲) و سرخ پارسا (٪۱۰) قرار دارند. بیشترین رقم سالانه در سال ۲۰۲۲ (٪۴۴) ثبت شده، در حالی که سال ۲۰۲۱ و نه ماه اول سال ۲۰۲۳ هرکدام ٪۲۸ واقعات را در بر گرفته اند. اوج‌گیری فصلی واقعات در ماه های دسمبر، جنوری و فبروری مشاهده گردید که با روند سرمای هوا مطابقت دارد.

نتیجه‌گیری: این مطالعه بار سنگین نمونیا در ولایت پروان را، به ویژه در میان کودکان خوردسال، تأیید می‌کند. تفاوت های جغرافیایی نشان دهنده نابرابری در دسترسی به خدمات صحی و تفاوت در کیفیت گزارش دهی است. تقویت خدمات صحی ابتدایی، بهبود سیستم های مراقبت و نظارت، و اجرای مداخلات فصل زمستان برای کاهش مرگ و میر و بیماری ناشی از نمونیا در این ولایت ضروری می باشد.

کلمات کلیدی: نمونیا، صحت طفل، DHIS2، روند های فصلی، پروان، افغانستان

Background

